
د ماشومانو لپاره شعرونه
ستوري خاندي
ليکوال: علم گل سحر
د ماشومانو لپاره شعرونه
ستوري خاندي
ليکوال: علم گل سحر
Designed By Sanaullah Zawab
مصور بنسټ
۱۳۸۶

# ستوري خاندي



د ماشومانو لپاره شعرونه

علم ګل سحر

# فهرست


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | زما نانځکه | |
| ۲ | پیشو | |
| ۳ | پاکي | |
| ۴ | پلار ته | |
| ۵ | ستوري خاندې | |
| ۶ | رمه | |
| ۷ | موټرونه | |
| ۸ | ماشومان | |
| ۹ | د ښکلا نانځکه | |
| ۱۰ | چلوونکي ته | |
| ۱۱ | کوکنار وایي | |
| ۱۲ | الفبې | |
| ۱۳ | کتاب | |
| ۱۴ | ځاله | |
| ۱۵ | ورور | |
| ۱۶ | قناعت | |
| ۱۷ | چرګ وایي | |

۱۸ بازاو زرکه

# زما نانځکه

ټکنده غرمه ده
انا سیوري ته ویده ده
مور مې لوښي زېږه غوا
خوسکی دی وارخطا
غواړې ژر وخوري شیدې
ورور مې هم غواړي مستې
خو زما نانځکه ښکلې
زما خواته ناسته غلې
نه شیدې خوري نه مستې
نه کوي راته پلمې
زه پرې تل لوبې کومه
هیڅ یې نه خپه کومه



# پیشو

دا زما پشکه ده
ښکلې خو بې شکه ده
دا راباندې ګرانه ده
زېړه او سپين چکه ده
په منډه موږکان نيسي
له پښو څخه چابکه ده
ټوپ د بل کور بام ته کړي
سمه الوتکه ده

پر مېز ایښې نانځکه ده
دا لاندې پر ځمکه ده



# پاکي

مینځم مې لاسونه خپل
پاک ساتم غاښونه خپل
مکتب ته پخپل وخت ځمه
لولم کتابونه خپل
نه پرېږدم سبا ته هیڅ
زه مې ټول کارونه خپل
زه ورسره لوبې کړم
خوشحاله ساتم ورونه خپل
کارکوم باغچه کې مې
تازه ساتم ګلونه خپل



# پلار ته

پلاره زما پلاره
ولاړ لې تر ښاره
ماته دې ټوپک راوړ
ځومره دې چټک راوړ
زه پرې لوبې نه کوم
دا بد رنګ شی څه کوم
زه ځینې و بربړمه
دې باندې پوهېږمه
ماته نور شیان راوړه
د لوبو ښه سامان راوړه
دا ټوپک بد رنګه دی
راوړی چا له جنګه دی
زه پرې لوبې نه کوم
دا بد رنګ شی څه کوم



# ستوري خاندي

ستوري خاندي په آسمان کې
موږ کړو لوبې په میدان کې
ستوري وايي وخت د تلو دی
پاتې نه شئ په بیابان کې
در ته مور سترګې په لار ده
ډوډۍ ایښې دسترخوان کې
توري تورې وريځې راغلې
ورور مې پاته دی باران کې



# رمه

د لوی غره خواکې رمه ده
اخوا زېړه زرغونه ده
بارانونه سږکال زیات وو
وابنه ډېر دي دښته شنه ده

✵ ✵ ✵

مېږې ځري په بیدیا کې
دي خوشحاله په سارا کې
شپونکی لیرې ورته ناست دی
لمر ځلیږي په فضا کې



# موټرونه

موټرونه را روان دي
ټول په دوړو کې پنهان دي
له موږ تېر شول په تېزۍ کې
وايي دا خو ماشومان دي
کرایه به کړي له کومه
د مکتب په لور روان دي



# ماشومان

موږ یو ښکلي ماشومان
نه په غرونو کې مرغان
چې ښکاري ټوپک راواخلي
ورته سم کړي خپل نښان

❋ ❋ ❋

له زړه سوي پرته یې وولي
یو څو والوزي څو ښکار کړي
موږ هم وډار شو دا وایو
ښکاري ګوره څه بد کار کړي

❋ ❋ ❋

موږه واورو خلک وایي
څو ځوانان روان شول جنګ ته
موږ په وېره وېره راشو
بیا د خپلې مورکۍ څنګ ته

❋ ❋ ❋

شو روان خپل ښوونځي ته
بیا چې موږ لږ څه ډاډه شو
جنګ مو هېر شي شو خوشحاله
بېرته لوبو کې اخته شو

✵ ✵ ✵

یو ډزوشي موږ پوه نه شو
هرڅه یو دم کې تباه کړي
خوشحالي مو شي ویرونه
له همزولو مو جلا کړي

✵ ✵ ✵

جنګ دې ورک شي دا جنګ بس کړئ
موږ له موره جلا کېږو
ماشومان یوو مړه مو نه کړئ
(هلته قبر کې ډاربېږو )

ښکلا او سمون لوبې کولې، د لوبو په وخت کې د دوی تر منځ کله جنګ کله مینې رابانديږ دا شعرولیکه:



# د ښکلا ناڅکه

موسکا خاندې موسکا خاندې
د ښکلا سترګې ژړاندې
د ناڅکې لاس يې مات دی
اوس غوسه ده پر ما باندې
چې سمون ده ماته کړې
را اچولې يې ده لاندې
خو ما نه ده ماته کړې
له ما ايښې وه ډېر وړاندې
د ښکلا ناڅکه ښکلې
ګرانه هم ده پر ما باندې
وايي ښکلا ده نظر شوې
مور لوګی کړې ورته سپاندې
ښکلا بېرته راپخلا شوه
لوبې ما سره اوس کاندې



# چلونکي ته

کاکا موږه ماشومان یوو
ښوونځي په لور روان یوو
موټر ودروه موږ ته
موږ د کلي مکتبیان یوو
ښوونځي په لور مو یو سه
دی ناوخته موږ ستومان یوو
موږ چې پوهه علم زده کړو
د وطن خدمتګاران یوو
د وطن آبادي غواړو
د سبا ورځې لویان یوو



# کوکنار وایي

زه یم بوټی د کوکنارو
خلک باسمه له لارو

ما ایستلي دي ډېر خلک
د ژوندون له سمو چارو

زه يې راوستم له لیرې
پیسه دوستو او غدارو

رانه جوړ يې ښه درمل کړل
عالمانو او هوښیارو

۱۲/۴/۱۳۷۳
کابل-ښارندوی مینه

# الفبې

الف د انار نوم دی
ټولو ته معلوم دی

ب د ژوند بدله ده
ت پوره په تله ده

ث د ثواب لاره ده
ج جرګه حل لاره ده

ح د حریت ننبه ده
خ د ښه خوی ننبه ده

د دین لاره په دال کې ده
ذ ذکر په ذال کې دی

ډال ډله مکتب ته ځو
ع علم ادب ته ځو

ړ ړانده بې علمه وي
لیري له تعلیمه وي

ه هیواد ساتنه ده
ټ بسیا تولنه ده

ځ ځانګې د ګل به موږ
ساتو یو په سل به موږ

چ لوبې چمن کې کړو
ګ ژوند په ګلشن کې کړو

س سوله دوستې غواړو
ش شګوفا یې غواړو

ڼ رڼا د لمر غواړو
پوهه سراسر غواړو

م مینه ورورې غواړو
ن هم نېکمرغې غواړو

ف افغانستان زموږ
ځ ګران دی تر ځان زموږ
ل لار د ژوندون دی
ض د ژوند مضمون دی

ک تل به کتاب وایو
ښوونکي ته ځواب وایو

ص تل صداقت کوو
خ همېش خدمت کوو

ږ ږلۍ اوریږي نن
ی یوې نه کیږي نن

ژ ژوند د عزت غواړو
ظ نابود ظلمت غواړو

ق قلم دی یار زموږ
پ پوهه شعار دی زموږ

ښ ولس مو ښاد غواړو
ط وطن اباد غواړو



# کتاب

خپل کتاب را باندې ګران دی
زما خوښ ټول عنوانونه
کتابچه کې يې زه کاږم
له کتابه مې رسمونه
څو څو ځله يې زه ليکم
د کتاب سخت سخت درسونه
زه يې پوښ کړم پاک يې ساتم
پکې نه کاږم خطونه
له درس وروسته يې راټول کړم
د مکتب ټول کتابونه
بيا يې بکس کې زه کېږدم
کتابچې او قلمونه



# ځاله

دا د مرغۍ ځاله ده
ښه ورته خوشحاله ده

بچیان ورته چغېږي
مور یې هوسېږي

مور ورته خواړه راوړي
پاک راوړي خواږه راوړي

ځاله د مرغیو زه
ساتم په خواریو زه

نه ځان په کیسو پرېږدم
نه ورته پیشو پرېږدم

ارکوني به رالوی شي
اخر به په ژوند پوی شي

بیا به الوتنه کړی

## ځان نه به ساتنه کړي



# وروړ

وروړ مې مروړ دی
مات شوی يې موټر دی
ناست دی ځان ته غلی
له درسونو هم وتلی
موټر د وروړ مې ښکلی و
پلار مې رانيولی و
وروړ به مې خوشحاله کړم
خلاص بې له جنجاله کړم
جوړ به يې موټر کړم
زه به ورته ژر کړم
بيا به خوشحالي کوو
لوبې يو ځايي کوو




# قناعت

مېږیان سترې او ستومان وو
په روزي پسې روان وو
دوی دانې را ټولولې
د خپل کور په لور یې وړلې



په دې منځ کې يو مېږی و
په ځنګله کې يې کورګی و
نور مېږيان به بوخت په کار وو
دی تمامه ورځ وزګار وو
نور به بوخت وو تل په کار
خو ده به تل خوړل تيار
نور به ستړي او ستومان وو
تل په کار پسې روان وو
کړل بې ټول غنم وربشې
دا خبرې ده ته خوشې
ده ليدلي چېرې شات و
بس زړګی يې پسې مات و

چې دا شات وخوري پخپله
دغه هیله یې کوله



له مچۍ سره اشنا شو
ورته دی داسې ګویا شو:
- له دانو مې زړه تور شوی
ترې نه ډک مې خپل کور شوی
غواړم وخورم تل خواږه
خواږه شات کړمه په خوله
مچۍ وې: په دې قناعت کړه
کار زما په نصیحت کړه
د هرچا برخې دي بېلې
هوښیارانو داسې ویلې
قناعت خو پاچاهي ده
حرص د هرچا بربادي ده

د عسلو مه کړه تمه
ځان ساته له هره غمه
که د شاتو ډنډ کې بند شې
په ارمان به د دې ژوند شې



خو مېږي کله منله
تل يې دا هيله کوله
چې په شاتو ښه ځان موړ کړي
او خپل کور شاتو کې جوړ کړي

مچۍ پورته په وزر کړ
پر صندوق يې برابر کړ

بس د شاتو ډنډ کې بند شو
او په غم يې ارام ژوند شو
 څوک چې نه کوي قناعت
نه مني هم نصيحت
ورسره هم تمبلي کړي
وي، کوچنی خو دی لويي کړي
چې نه کار کوي نه زيار کړي
ځان پخپله باندې خوار کړي



# چرګ وایي

ښکلې مې ښکې دي
تورې او سپین چکې دي
زه له بازه ښکلی یم
مرغانو کې وتلی یم
زه ښکلی بې شکه یم
افسوس پاتې په ځمکه یم
باز په آسمانو ګرځي
ډېر ډېر په مزو ګرځي
زه له علمه پاته شوم
په دې له بازه شاته شوم




# باز او زرکه

ژیړه زرکه ښکلې وه
له کوره راوتلې وه

ناسته په ډبره وه
ډیره معتبره وه

تل ډیره خوشحاله وه
د غره خواکې یې ځاله وه

دې ويلې سندرې
له نورو څخه ليرې

باز راغی له غرونو
پوري له ځنګلونو




د باز سترګې سرې سرې
خلاصې يې پنجې وې

زرکه وارخطا شوه
له ځان سره سلا شوه

ژړولاړه تر کوره
د باز له ظلمه و زوره

باز وویل زرکې
زما د زړه بخرکې

ښکلې وې ستا غاړې
چیرې رانه ولاړې

زه په تا مین یم
په ارمان ستا د دیدن یم

را ووځه له خپل کوره
زما حال ته وګوره

بې تا مې ژوندون نه شي
هیڅ ځای مې سکون نه شي

یو ځای به ژوندون وکړو
موږ به پیوستون وکړو

تاته به هر څه راوړم
خوراک به ستا په زړه راوړم

تل تاسره مینه کړم
دا خبره سپینه کړم

زرکه خرامانه
له کوره را روانه

راغله د باز خواته
خپل کور شو ځیني پاته

څو شیبې سندرې وې
د راز و نیاز خبرې وې

زرکې وویل بازه !
زما د زړګي رازه

ولاړ شه څه خواړه راوړه
ژر زما په زړه راوړه

باز ويل ستا غوښې
د هر چا ډيرې خوښې

تر ټولو دا خوږې دي
زما لپاره ښې دي

زرکه شوه حيرانه
باز ته شوه ګويانه

ته خو زما يار يې
اوس مرګ ته مې تيار يې



باز وویل ښکلې
بې عقلې ساده ګلې

یاري د زورورو
په خوله وي، په خبرو

اوس وږی یم تا خورمه
نور صبر نه کومه

زرکې په سلګو کې
د ژوند وروستو شیبو کې

دا وویل ژړا کې
د باز د پښو خوا کې

چې بې ځايه اشنايي کړي
اور به بل په خپل تندي کړي

